# د اکرام الله ګران په شاعرۍ کښې د انساني رويو څېړنه

# The Critical Analysis of Human Behavior in the Poetry of Ikramullah Gran

Tufail Ahmad Zaryab Yousafzai [1], Abaseen Yousafzai [2]

Human behavior is the reaction of the society. Every man is directly or indirectly affects the behavior of others. We live in a social circle and there is a co relation between human of one society. The Pashtoon is the nation which has different nature and different behavior that is his social and cultural identity which causes the birth of literature. Pashto literature is the significant style of highlighting those behavioral impacts. Pashto has the rich literature in which the coulors of life and social behavior of Pashtoon and in the broad sense human behavior is captured by the poets of Pashto Language. The name of Ikramullah Gran known as Gran Baba is one of those poets who are concentrating the social aspects of the society. The style of the renowned poet, Gran Baba is famous among the Pashtoon all over the world. In this Paper it is explained that Gran Baba along with romanticism and progressive thoughts has also the social behavioral sense in his poetry. Zama Ghazal, poetry book of Gran Baba is used as primary source and different other sources which were necessary for the required paper are used as secondary sources.

**Key Words:** Human behavior, social life, social circle, human nature, cultural identity, behavioral impacts and literature.

ادب د انساني رويو او ردعمل نه پېدا کېږي او هم دغه وجه ده چې مونږ ادب د ژوند پېدا وار ګڼو.انسان په يوه خاص ټولنه کښې ژوند کوي او هغه د خپلې ټولنې د وګړو سره خپل روزګار ترسره کوي.ځکه چې هر انسان د ژوند په هر ډګر دبل محتاج وي او د خپل ژوند تيري د پاره د بل انسان د فکر او عمل نه د ګټې پورته کولو په تکل وي.ادب هم د دغې رويو او عمل په نتيجه کښې تخليق کېږي. په دې مقاله کښې هم د پښتو د جديد غزل او جديدو رجحاناتو څښتن شاعر اکرام الله ګران بابا په شاعرۍ کښې د انساني رويو په حواله بحث شوے دے او ددې خبرې د رامېنځ کولو هڅې شوې دي چې ګران بابا هم د دې معاشرې د وګړو سره کوم روزګار ساتلے او بيا د هغې وګړو د

1 Lecturer in Pashto, Islamia College Peshawar.
2 Chairman Pashto Department, Islamia College Peshawar

رويو په ردعمل کښې هغه څنګه په خپل ځانګړي انداز د ځپل شعر په ژبه د هغې اظهار کړے او په کوم انداز ئې د معاشرې د وګړو د رويو او مثبت بدلون هڅې کړي.

د انساني رويو او معاشرتي ژوند په حواله عمرانيات زمونږ رهنمائي کوي نو اول بحث هم د عمرانياتو په تناظر کښې په وړاندې بوځو او بيا به د دغې عمراني بحث په رڼا کښې د ګران بابا د شعر جاج اخلو. په انسان کښې دوه قوتونه وي يو عملي او بل علمي. کوم انسان چې د علم او عمل په بنياد د فطرت او خصلت په اعلي مقام فائز وي او د هغه په علم او عمل کښې تضاد نه وي نو هغه پيغمبر بللے شي.مولانا عبيد الله سندهي ليکي چې:

"اگرانسان کی فطرت سلیم ہو تو علم اور عمل میں تفریق نہیں ہو سکتی، ہاں یہ ممکن ہے کہ کسی انسان میں ایک قوت زیادہ ہو اور کسی میں دوسری. اسی وجہ سے انسان ایک دوسرے کے محتاج ہوتے ہیں اور انھیں ایک دوسرے پر فضیلت حاصل ہوتی ہے"(۱)

انسان د خپلې ټولنې نه بغېر ژوند نه شي تېرولې ځکه چې د هر چا بلها ضرورتونه دي او د هغې ضرورتونو د سر کولو په غرض د ټولنې هر فرد بل ته اړتيا لري. که څۀ هم ارسطو انسان ته سماجي ځناور وئيلے خو ولې بيا هم د انسان اعلې قدرونو او انسانيت هغه له يو اعلي او ارفع مقام ورکړے دے.او دا په دې چې هغه د بل وګړي دپاره اکثر په خپل ذات هم پښه ږدي. محمد اشرف خرم ليکي:

"انسان کسی بھی لحاظ سے معاشرے سے کٹ کر اپنی زندگی نہیں گزار سکتا... غرضیکہ انسان ہر لحاظ سے اپنے جیسے دیگر انسانوں کے ساتھ اجتماعی زندگی گزارنے پر مجبور ہے".(۲)

بيا وړاندې ليکي چې :

"معاشرے کے ارتقا کے ساتھ ساتھ انسان کو دوسروں کی مدد اور تعاون کی ضرورت شدید ہوتی چلی گئ اور انسان نے دوسروں کے تعاون سے اپنی اجتماعی زندگی کو مزید فروغ دینے کیلئے اپنی عقل وذہانت کو بروئے کار لاکر منظم جدوجہد کے وقت اور حالات کے مطابق کائنات کی تسخیر کی سعی کرتے ہوئے اسکے موجودات کو اپنی تمدنی زندگی کی تکمیل کیلئے کارآمد بنانے کیلئے جستجو کی اور اپنی اس جہد مسلسل میں وہ بڑی حد تک کامیاب رہا".(۳)

ابن خلدون هم ډېر وړاندې دغه خيال ظاهر کړے وو چې انسان که هر څومره ددنيا نه مخ واړوي او په ګوټ کښې د ژوند ټېرولو فېصله وکړي خو ولې بيا هم دغه انسان د خپلو ضرورتونو دپاره د بل انسان محتاج وي. که مونږ لږ شان غور وکړو نو ددې ورکړے راکړے دوران مونږ د يو بل د مختلفو رويو سره مخ کېږو. د هر انسان فطرت ، خوئي خصلت او رويه د بل نه ډېره مختلفه وي او هم دغه متختلفې روېې زمونږ شخصيت جوړوي..زمونږ شخصيت زمونږ د رويو هينداره وي.د هرې معاشرې د وګړو د شخصيت خپلې ځانګړې روېې وي او هم دغه روېې دوي د نورو وګړو نه منفرد کوي.ددغې معاشرتي اثر نه د هغې معاشرې د وګړو طرز عمل او روېې اثر اخلي.

ډاکټر سلمه شاهين ليکي:

> "د فرد په کردار د ګڼو خلقو يا افرادو مجموعي اثر مرتب کېږي.هغه ګڼ معاشرتي اقدار چې د افرادو يو شمېر يا ډله ئې جوړوي هم او په شريکه ئې قبلوي هم نو فرد له لازمي ده چې ددغه وضع کړې شوې قوانينو، اقدارو،رسوماتو، رواجونو او عقيدو قبلول په ځان اومني او د هغې احترام وکړي او ترې روګرداني ونه کړي ځکه چې معاشره افراد جوړوي او هم دوي دې له قانون او آئين ورکوي".(٤)

انسان که هر څومره آزاد پېدا دے خو ولې بيا هم د هغه دپاره د هغه معاشرتي بنديزونه د هغه دغه ازادي د يوې خاصې دائرې پورې محدودوي او دغه دائره او حد بيا ددغې انسان په رويه او طرز عمل خپل اثر غورځوي.او چې بيا مونږ په دغه تناظر کښې social process ته ځير کېږو نو د هغه طرزعمل او رويه په ځپله ټولنه ډېر لوے اثر غورزوي چې د هغې په ردعمل کښې هغه د نورو ناشنا رويو سره مخ کېږي.ددغې social process په بنياد يو وګړے د خپلې ټولنې د نورو وګړو سره ځبل روزګار ساتي.ددغې تړون او روزګار په حواله Gillin ليکي:

> "By social interaction we refer to social relations of all sorts in functions – dynamic social relations of all kinds – whether such relations exist between individual and individual, between group and group and group and individual, as the case may be"(5)

> ژباړه:د سماجي روزګار نه مراد هر قسم سماجي تعلق او تړون دے. که دغه تعلق د يو وګړي د بل وګړي سره وي او که د ډېرو وګړيو په خپلو کښې يا د يو وګړي سره ،دغه تعلق او روزګار که هره نمونه وي.

او Eldredge او Merrill ليکي:

> "Social interaction is thus the general process whereby two or more persons are in meaningful contact-as a result of which their behavior is modified, however, slightly" (6)
>
> ژباړه: سماجي تړون يوه عامه سلسله ده چرته چې دوه يا ډېر کسان د څهٔ مقصد دپاره تعلق لري او هم ددغې تعلق په وجه د دوي په رويو کښې لږ شان بدلون پيدا کېږي.

دغه سماجي او معاشرتي تعلق د وګړيو په رويه کښې چې کوم بدلون راولي نو هغه د وګړيو په عمل هم اثر انداز کېږی او ګران بابا چې د خپلې معاشرې نه د رويو او عمل او ردعمل په طور خپل غزل له کوم رنګونه اخستي دي نو په هغې کښې هم مونږ ته د هغه د خپل محبت او خپل اولس سره سم د انسانيت د تقاضو عکاسي ده. ګران بابا د ځپلې معاشرې يو فعال او ژوندے وګړے وو.د ځپل فکر او فن نه ئې که يو خوا د خپلو لطيفو جذباتو د اظهار کار اخستے نو بل خوا ئې خپل قلم د خپل اولس د ښېګړې او بيدارۍ دپاره کارولے دے.د هغه په کلام کښې که يو خوا مونږ د مترقي رومانيت رنګونه وينو نو بل خوا پکښې د محبتونو د جذبو کيف هم د رومان شوخي تندوي او لا شوخوي.

خوارهٔ وارهٔ د مينې مې افکار لکه سپوږمۍ
په هره پله يمه زهٔ په لار لکه سپوږمۍ
تهٔ هم د محبت د نمر رڼا باندې ښائسته ئې
تهٔ هم که چرې ونه کړې اقرار لکه سپوږمۍ
دګران په خندا رويه ژوندون خلق دوکه کېږي
که ښکاري ئې په زړهٔ باندې پرهار لکه سپوږمۍ(۷)

د ګران بابا په دې شعرونو که مونږ لږ غور وکړو نو که يو خوا ترې د هغه د کړي محبت د روئې ردعمل ځنځېږي نو بل ځوا پکښې مونږ د هغه د ما في الضمير راښه او شوخ رنګونه محسوسوو.کوم چې د خپل جانان د پاره خصوصي او د خپلې معاشرې دپاره عمومي د بيدارو جذبو استازي دي.د

ګران بابا د محبت د دغې روېې او بيا د دغې محبت په ردعمل کښې د جانان روېې که د ګران د فن خوارۀ يو په دوه کړي نو بل خوا ئې د پښتو غزل له هم نوي او شوخ رنګونه راوړي دي او دغې سوچه والي ، برجستګۍ او بې ساختګۍ ګران بابا به ټولو پښتنو ګران کړے دے.

دا يو کوټلے حقيقت دے چې پښتنې معاشره کښې د وګړو عمومي روېې چې ددوي د فطرت مطابق نه وي نو دوي ډېر په شدت سره د هغې خلاف ردعمل کوي.او کله کله دغه ردعمل دومره حده پورې شديد وي چې زمونږ معاشرتي تعلق ته هم نقصان رسوی.دا ځکه چې پښتون من حيث القوم انا پرست هم دے او ځان پرست هم.او چې د ګران بابا په دغه څو شعرونو غور کوو نو که يو خوا ترې د ګران بابا د معاشرتي نفسياتو رنګونه ځاڅي نو بل خوا د پښتون قام د معاشرتي روېو ردعمل ښائي.

قاصده دا خبره بس ده چې انکار ئې وکړو
څۀ له سلګۍ ئې راته ستائې د پيغامه سره
اوس په خوبونو کښې هم مه راځه بدنامه به شې
کلي هر چا دي پرېښودلي ما بد نامه سره(۸)

او خو چې بيا د جانان د روېې غندنه کوي نو بيا ئې انداز سره لهجه هم بدلېږي.

چې په ژوندون کښې ئې محرومه له ژوندونه کړمه
اوس مې لحد ته کوزوي څۀ د اکرامه سره(۹)

دا د جذبې هغه شدت دې کوم چې د ګران بابا د محبت حاصل دے.دغه کېفيت دلته بيا لږ شان جدا دے.

په دې هوارو پستو غرونو کښې لار نه شي ويستې
څۀ وشو دا که دنګې څوکې ددې غرونو څيري(۱۰)

ژړا ته لوګے کېږو ستا خندا ته لوګے کېږو
اشنا که په هر رنګ وي ستا ادا ته لوګے کېږو
مونږ عشق ته که لوګے شو که ستا حسن ته لوګے شو
خپل ځان ته لوګے کېږو چې دا تاته لوګے کېږو
هم دا د محبت زمونږ حاصل زمونږ جنون دے
جانانه به انکار دې هم رضا ته لوګے کېږو(۱۱)

او بیا د خپل محبت دغه حاصل ورله په رویه کښې بدلون هم راولي . دغه بدلون که یو خوا د هغه د معاشرتی ژوند سره تړلے دے نو بل خوا دا حقیقت هم مونږ ته واضحه کوي چې سماجي بدلون که مونږ غواړو او که نه خو ازلي دے.او چې ددغې بدلون په تناظر کښې مونږ د ګران بابا د معاشرتي ژوند بل پړاو پله ځو، دا هغه پړاو دے چې د سماجي عمل تر مخه د یو کس د نورو وګړو سره کوم تعلق او تړون وي او د هغه تعلق او تړون په بنیاد ئې د ژوند روزګار روان وي.چرته یو کس په ډېرو اثر انداز کېږي او چرته ډېر په نورو لکه مخکښې چې اووئیلے شو.او چې د ګران بابا شاعري څېړو نو دهغه په غزل کښې د زاهد، واعظ، محتسب او داسې ګڼ کردارونه دي څوک چې نېغ په نېغه یا بلواسطه زمونږ معاشره متاثره کوي او زمونږ د سماجي زوند سره سم زمونږ په رویو کښې د بدلون سوب ګرځي.ګران بابا د دغې کردارونو په حواله په خپل ځانګړي او منفرد انداز قلم پورته کړے او کله په یو انداز او کله په بل انداز ئې اولس له شعور ورکړے.

چرته څۀ وینې د مظلوم خو نه دي
واعظه خېر دے زۀ مېخوار ښۀ یم(۱۲)

زما د برخې حورې ستا شوې ملا
د لیونۍ له سترګو ځار ښۀ یم(۱۳)

اف زاهده دومره وارخطا شولې
شرنګ خو د پانزیبو زلزله نه ده(۱٤)

واعظه مه غولوه ګران اوس د جنت په ګلو
په نمر زیړي کښې ئې لیدلي د ګودر ګلونه(۱۵)

ډېر ئې د غرور له ګمراهۍ نه راویستلي دي
ستا نه شېخه ښۀ دا ګناهونه په دے چم کښې دي(۱٦)

ظاهربینو زۀ په دې ګناه سنګسار کړم
بې له عشقه بل مذهب زما نه رد دے(۱۷)

ړاندۀ دي په دې دومره ړناګانو کښې دا خلق
که نه د دوي د ذهن د شعور نمرونه مړۀ دي(۱۸)

که په دغه شعرونو مونږ غور وکړو نو هم پکښې مونږ ته د ګران بابا د حسن او عشق ، فطرت پسندۍ او هم د معاشرتي رویو داسې ردعمل به نظر رائحي چې زمونږ د معاشرې هر وګړے ئې هم د فن او هم د دغې بغاوت ستائنه کوي.ځکه چې ګران بابا د فن نزاکتونه هم قائم ساتي او د معاشرې د بدلون هڅې هم کوي.د ګران بابا دغه انداز نېغ په نېغه د خپل لوستونکي او اوریدونکي په زړۀ او ذهن د مثبت اثر سره د عمل دعوت هم ورکوي.

د ګران بابا شاعرانه موضوعات ډېر متنوع دي . د هغه شاعرانه لطافت ،د انداز ندرت، تېزه مشاهده او بیا د روماني ترقي پسندۍ رنګونه که یو خوا د ذوق د تسکین سوب دے نو بل خوا په غېر محسوس انداز د معاشرتي بدلون او سماجي تړون نخښې ښښانې لري.

په معاشره کښې هر قسم خلق وي څۀ فکري یووالے لري او څۀ تضادات. هم دغه وجه ده چې د ګران بابا په شاعرۍ کښې هم مونږ دغه فکري تضادات موندے شو.دغه تضادات که یو خوا د ګران بابا شاعرۍ ته شوخي ورکوي نو بل خوا دغه تضادات د هغه د انسان دوستۍ او په تېره تېره د معاشرتي رویو د اصلاح رنګ دے.

د هغۀ د انسان قدر د انسانيت په بنياد دےهغۀ د فکري ازادئ سره سم د انسان د ازادئ او عظمت سندرې وائي او دا غواړي چې دهغۀ د معاشرې وګړي دي انقلابي رويه اختيار کړي ځکه چې د انساني ژوند بقا او دوام هم په دغه انقلابي رويه کښې دے.ګران بابا پښتون دے او دا رويه د هغه په ختۀ کښې اغږلې شوې ده.او د شاعرئ دغه تضاد ئې هم د خپل کلتور، عقيدې او نظرئې ،سماجي او معاشرتي اقدارو او بيا د هغۀ د تخليقي توان اثر دے.او چې په دغه تناظر کښې مونږ د ګران بابا شعر ته ګورو نو ددغې رويو عکاس دے.

چې زړۀ زما بلد دے د حالاتو په لمبو کښې
بيا ولې وار خطا دے ستا په يو نظر کتو کښې
بس غواړي قرباني د ارزوګانو زما مينه
دا ونه ښېرازېږي د شاخونو په رودو کښې
مونږ څۀ رنګ د جمود پړاو خپل ځان لره منزل کړو
حرکت چې مو ليدلے دے د زړۀ په درزېدو کښې(۱۹)

دا يو حقيقت دے چې انسان د خپل تهذيبي او ارتقائي ژوند د سفر د تندئ او بدلونونو په ضد د فطرت د ظاهري او باطني مظاهرو خلاف مزاحمت کوي او دغه مزاحمت د ارتقا لار ده،خو اصل بدلون د فکر او خيال په بدلون راځي او ګران بابا ته هم ددې حقيقت ادراک وو ځکه خو ئې د خپل قام د وګړو د طرز عمل او رويو د بدلون په اړه ډېر په شدت دعوت عمل او يو قسم دعوت بغاوت ورکړے ځکه چې حالات داسې جوړ کړے شوې دي چې د خپل قام سره د خپل قامي شناخت ،خپل کلتور او رواياتو د بقا د جنګ سره مخ يو.زمونږ سماجي ، تهذيبي،معاشي او معاشرتي اقدار په نخښنه دي . په داسې حال کښې به مونږ د وخت د تقاضو سره سم خپل ځان ګټو. دغه رنګ د ګران بابا په شاعرئ کښې داسې ځلېږي.

د ژوندون په کټوريو کښې چاته قند بږدي چا ته زهر
عجيبه شانې وېش کېږي د دوران په دروازه کښې
دا چمن بلبلو ستاسو په والله که د بل چا شي

خو دا خپل سرونه مات کړئ د زندان په دروازه کښې(۲۰)

او بیا داچې :

د ړنا او تیارو جنګ دے د شعور په سنګرونو
ګنې ما خو دا ګڼله خېر او شر ښکلے فرېب دے(۲۱)

په زړونو کښې تیارې په ښاریو کښې چراغان دي
د جبر د حالاتو نه مجبور دے حرارت
مونږ خپل غرض دپاره ترې د جنګ اورونه بل کړل
د ژوند بقا ده څۀ ښکلے دستور دے حرارت(۲۲)

څوک لیوني دي چې به جنګ خوښوي
چې ستا په خولۀ تود شي نو شر ښکلے دے(۲۳)

ګران بابا که یو خوا د محبت د رنګینو نغمه ګر دے نو بل خوا د هغه شعري آهنګ کښې د یو مثبت بدلون او معاشرتي رویو داسې بې بها رنګونه را یو ځاے دي چې د خپل لوستونکي د فکري جلا سره سم د محبت د انقلاب سندرې هم زمزمه کوي او عمل ته ئې هم هڅوي. د ګران بابا حسن پرستي ، عقلیت، انسان دوستي ،او بیا په تېره تېره د نوې رجحاناتو سره سم د خیال ندرت زمونږ د معاشرتي او سماجي ژوند او رویو عکاسي د فن وجود کښې د نوي روح پوکے دے.هغه د خپل قام او اولس سره سم د انسانیت د بقا د فکر په لار روان دے او په ډېره جامع او مثبت انداز د خپل شعري شدت په زور د نړۍ وګړو ته د محبت ،امن ، ورورولۍ او یووالي سندرې وائي. کله کله داسې لګي چې د یو مبلغ او مصلح په څېر د خپلې معاشرې د وګړو د اصلاح او د سم او ناسم د تمیز په خاطر ډېر په جارحانه انداز قلم پورته کوي.دا یو حقیقت دے چې په تېک وخت د قلم نه کار اخستل او د تیارو سره مبارزه کول د وسله والې مبارزې په نسبت ډېرې ګټې راوړي او ګران بابا تر ډېره حده خپله دغه وظیفه تر سره کړې ده.

## ماخذونه


۱: حضرت مولانا ،عبید الله سندهي،مجموعه تفاسير امام سندهي،۲۰۰۹، کراچي،حکمت قرآن انستيټيوټ،ص ۵۷

۲: خرم،محمد اشرف،تعلیم کي فلسفيانه اور عمرانياتي بنيادين،۱۹۸۰، کراچي،اردو اکيډيمي سنده،ص ۴۷۹

۳: هم دغه

۴: سلمه شاهين،روهي سندرې،دوېم جلد،۱۹۹۴، پېښور،پښتو اکېډيمي،ص ۱۵،۱۴

۵: http://www.yourarticlelibrary.com/sociology/social-processes-the-meaning-types-characteristics-of-social-processes/8545, 7-3-2018,10:50pm

۶: هم دغه

۷: ګران،اکرام الله،زما غزل،دوېم ایډیشن،۲۰۰۳،لاهور،ملت ایجوکیشنل پرنټرز،ص ۸۷

۸: همدغه بره ،ص۹۲

۹: همدغه بره ، ص۹۳

۱۰: همدغه بره ، ص۹۲

۱۱: همدغه بره ،ص۹۶

۱۲: همدغه بره ،ص۹۹

۱۳: همدغه بره ،ص۳

۱۴: همدغه بره ،ص۴

۱۵: همدغه بره ،ص۵

۱۶: همدغه بره ،ص۱۵

۱۷: همدغه بره ،ص۱۷

۱۸: همدغه بره ،ص۳۲

۱۹: همدغه بره ،ص۲۶

۲۰: همدغه بره ،ص۷۹

۲۱: همدغه بره ،ص۸۰

۲۲: همدغه بره ،ص۱۳۷

۲۳: همدغه بره ، ص۱۱۷